ځينې خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی

له خَولة الأنصارية رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوربدلي دي چې فرمايل يې: «ځينې خلک د الله په مال کې په ناحقه؛ ناوړه لګښت کوي، نو د قيامت په ورځ د دوی لپاره اور (دوزخ) دی»

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو خلکو په اړه خبر ورکوي چې د مسلمانانو په مالونو کې ناوړه تصرف کوي او په ناحقه يې اخلي، دا (تصرف)هر ډول مال ته شامل دی چې راټوليږي او يا په ناروا توګه تر لاسه کيږي او بې ځايه په ناحقه ځايونو کې لګول کيږي، پدې کې د يتيمانو مالونه، وقف، په امانت منکربدل او له حق پرته له عامه مالونو څخه اخيستل شامل دي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د قيامت په ورځ د دوی جزا دوزخ دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5331